# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**12 دلو _سال 1401**




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

وزیر امور مهاجرین با معاون موسسه،IRC ملاقات نمود ---------------------------------------------------------------- 1

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د (IHH) موسسې ځخه د راستنېدونکو او بېځایه شوو سره د همکاریو غوښتنه وکړه

بیش از هزار مهاجر افغان به وطن برگشت نمود ---------------------------------------------------------------------------- 3

له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------------------------------------- 4

هغه کډوال چي اروپا کې «د قاچاقبرو د ښکار» قرباني کېږي----------------------------------------------------------------- 5

پر اخراج د مهاجرو د اصلي هیوادونو سره خبرې اترې پرېکړنده دي ------------------------------------------------------- 8

آلمانی اروپوهه: د مهاجرو رواني درملنه عیاشي نه ده ---------------------------------------------------------------------10

نزدیک به ۱۳۰ زندانی افغان از زندان مرکزی شهر کراچی رها شدند -----------------------------------------------------11

بازگشت بیش از سه هزار مهاجر افغان از ایران به افغانستان --------------------------------------------------------------13

وزارت امور مهاجران و عودت‌کنندگان دولت طالبان از بازگشت 3 هزار و 282 مهاجر از ایران به افغانستان در طی دو روز خبر داد ---------------------------------------------------------------------------------------14

ترکیه ۱۳۹ پناهجوی افغان را به افغانستان بازگرداند ---------------------------------------------------------------------14

# متن کامل اخبار

## وزیر امور مهاجرین با معاون موسسه،IRC ملاقات نمود

ویب سایت وزارت



الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین، با عدنان جنید معاون آسیایی موسسهIRC ،در دفتر کارش ملاقات نمود.

دراین دیدار طرفین در مورد توزیع مساعدتهای زمستانی برای مستحقین نیازمندیهای آنها بحث و تبادل نظر نمودند.

وزیر امور مهاجرین باقدر دانی از نهاد های خیریه که در شرایط ناگوار به مردم افغانستان کمک نموده اند گفت که مساعدت به مردم بی بضاعت و مستحق وجیبه سایر افراد و جوامع متمول است و کمک به انسانهای نیازمند، نباید سیاسی و به مسایل و موضوعات سیاسی وابسته گردد.

وی علاوه نمود که این وزارت در فراهم آوری شرایط سروی و توزیع کمک با موسسات آماده همکاری است، اما کمکها نباید، به شرط و شرایط باشد.

حقانی افزود که در سروی و توزیع کمک باید، مسایل مذهبی، کلچر و عنعنات مردم، جداً مراعات شود و همه فعالیت های موسسات، باید در هماهنگی با وزارت امور مهاجرین و بطور شفاف صورت گیرد .معاون آسیایی موسسه مذکور گفت که در سروی و توزیع مساعدتهای شان، نکات یاد شده را مراعات نموده و به همکاری شان ادامه خواهند داد.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د (IHH) موسسي څخه د راستنېدونکو او بېځایه شوو سره د همکاریو غوښتنه وکړه

دوزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د سلواغي په (۱۱) په کابل کې د ترکيي هېواد د (IHH) موسسي له رئیس ښاغلي مجاهد کلیچ سره لیدنه وکړه.

په ناسته کې چې په مهاجرینو چارو وزارت کې ترسره شوه، د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال وویل، بېځایه شوي د ښاک پاکو اوبو، کار موندني، روغتیا او ښووني او روزني په برخه کې مرستو ته اړتیا لري او موږ غواړو چې ددې اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د (IHH) موسسه د مهاجرینو چارو وزارت سره همکاري وکړي.

هغه زیاته کړه، ددې لپاره چې راستنېدونکي بېرته مهاجرت ونه کړي اړینه ده، چې دوی ته د کار کولو زمینه برابره شي او د کرنې د ودې او پراختیا له لارې د کار پیدا کول د راستنېدونکو په دوامداره بیا یوځای کېدو کې کټور ثابتیدای شي.

د (IHH) موسسي رئیس وویل، چې غواړي په بلخ ولایت کې د بېځایه شوو په یوه کمپ کې یو ښوونځی او یوه مدرسه جوړه کړي، چې ددې لپاره د مهاجرینو چارو وزارت همغږۍ او منظورۍ ته اړتیا ده.

نوموړي وویل، دغې موسسې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونوکي د اړمنو کسانو لپاره د څښاک د پاکو اوبو د برابرولو په موخه (۷۵۰) څاه ګاني کېندلي، شاوخوا (۵۰۰) یتمانو سره یې مرستې کړي او ( ۱۵۰۰) کورنۍ ددې موسسې د بېلابېلو پروژو تر پوښښ لاندې نیول شوي.

## بیش از هزار مهاجر افغان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




یک هزارو 22 تن مهاجر افغان  مقیم ایران، از طریق پل ابریشم ، به تاریخ 9 دلو  به ولایت نیمروز برگشتند.

به اساس معلو مات ریس امورمهاجرین ولایت نیمروز افراد مذکور17 خانواده ، شامل 60 تن و 962 تن مجرد بودند و ازآن میان 10 خانواده شامل 20 مرد و 19 زن و همچنان 26 تن مجرد غرض دریافت کمک، به دفتر IOM معرفی شده اند.

## له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت




په تېرو دوو ورځوکي د هرات ولایت د اسلام قلعه او نیمروز ولایت د وربښمو پل له لارې د ایران څخه ( ۲۲۶۰) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.

د یادو راستنېدونکوله ډلي د سلواغي په (۹) مه د هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې ( ۱۶۲۶) ته او د نیمرو ز ولایت د وربښمو پل له لارې د سلواغي په ( ۸) مه ( ۶۳۴) تنه هېواد ته راستانه شوي.

په راستنېدونکو کي چي په جبري توګه او خپله خوښه هېواد ته راستانه شوي و (۴۱) کورنی چي (۱۶۶) تنه کېږي هم شامل دی، چي له ډلي يي (۲۰) کورنی چي (۶۲) تنه کېږي د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ( IOM) ته ور وپېژند شول.

## هغه کډوال چې اروپا کې «د قاچاقبرو د ښکار» قرباني کېږي

مهاجرنیوز



د اروپا ځینو هېوادونو کې سلګونه کډوال د کښنتیو او یا موټرو د چلولو په تور د پولیسو له خوا نیول شوي دي. پر دغو کسانو تور دی چې «ناقانونه کډوالۍ» ته یې لاره هواره کړې ده. ډېری دغه کډوال د بند په سزا محکوم شوي دي.

کله چې مهتاب سابترا خبره شوه چې پلار یې په یونان کې بندي دی، د ارامتیا احساس یې وکړ. هغې او خور یې له لسو ورځو راهیسې د خپل پلار همایون سابترا په هکله هېڅ راز معلومات نه درلودل. اته پنځوس کلن همایون له ترکیې څخه یونان ته د تګ لپاره له قاچاقبرو سره اړیکه نیولې وه. مهتاب خوشاله وه چې پلار یې «ژوندی» دی.

خو څو میاشتې وروسته یې خوشالي په وېر بدله شوه. مهتاب کډوال نیوز ته وایي» :پلار مې د خپل وضعیت په هکله جزیات پټ ساتل، ویل یې چې د کډوالو په تړلي کمپ کې دی، خو هیله لري چې خوشی به شي. خو رښتیا خبره دا وه چې د کوریدالوس زندان کې و. فکر مې نه کاوه چې حال به یې ډېر خراب وي. پلار مې [د کډوالو لېږدونکي] موټر چلولی و«.

پر همایون سابترا تور دی چې له ۷ تنو نورو سره یو ځای یې ځان یونان ته رسولی دی او هغه موټر یې چلولی چې کډوال پکې سپاره ول. د یونان د قوانینو له مخې، همایون د قاچاق وړونکي او یا «د ناقانونه کډوالۍ د تسهیل کوونکي» په توګه پېژندل کېږی. د اکاتیمریني ورځپاڼې له خوا خپرې شوې شمېرې ښيي چې تر ۲۲۰۰ زیات کسان چې د قاچاق تور پرې لګول شوی په یونان کې بندیان دي. اروپايي ټولنه کې بیا د بندیانو شمېر زرهاوو تنو ته رسېږي: له ۲۰۱۸ څخه تر ۲۰۲۱ پورې اروپايي ټولنه کې لږترلږه ۹۸۶۲ کسان د «کډوالو د قاچاق» په تور نیول شوي دي.

د دغو کسانو په ډله کې د همایون سابترا په څېر زیات شمېر کډوال هم دي چې د کښتیو او یا موټرو د چلولو په تور نیول شوي دي. د بشري حقونو سازمانونه دغه کډوال «د قاچاقبرو د ښکار» قربانیان بولي. ځیني کسان د کښتیو د چلولو، د قطب نما او سټلایټ ټیلیفون درلودلو او یا له ژغورونکو سره د اړیکې نیولو په خاطر په کلونو بند محکومېدلی شي.

»تفنګچه یې را باندې ونیوله، ډېر ډارېدلی وم«...

فواد کاکایي او عثمان* چې د ایران او مالي اتباع دي د کډوالو د کښتیو د چلولو په تور څو کاله په بند کې تېر کړي دي. دوی چې اوس له زندانه خوشي شوي دي ځان د ناعادلانه قضایي سیستم قرباني بولي.

یو دېرش کلن فواد کاکایي هغه مهال د پولیسو له خوا ونیول شو چې غوښتل یې د ۲۰۱۹ په ډېسمبر میاشت کې د مانش کانال له لارې برېتانیا ته واوړي. هغه د برېتانیا ساحلي ځواکونو ونیوه. له ۲۰۱۵ راهیسې تر ۹۰۰ زیات کسان د «ناقانونه کډوالی د تسهیل» په تور یوازې د برېتانیا په کېنټ ښار کې نیول شوي دي. فواد د اژې سمندر او ورپسې د بالکان هېوادونو له لارې ډنمارک ته رسېدلی و خو هلته یې د پناه غوښتنه رد شوه. نوموړي برېتانیا ته د تګ لپاره له قاچاقبرو سره اړیکه ونیوله. دغه ایرانی په ۲۰۱۹ کال کې له ۱۳ تنو نورو کډوالو سره یو ځای په یوه کښتۍ کې سپور شو. خو محکمې د کښتۍ د چلولو په خاطر په ۲۶ میاشتو بند محکوم کړ. فواد وایي چې زندان کې ورسره ۲۸ نور بندیان هم وو چې د «ناقانونه کډوالۍ د اسانولو» تور پرې لګول شوی و.

د مالي اوسېدونکی عثمان وایي چې له مجبورۍ یې کښتۍ چلولې ده. هغه چې د سیسیل په کتان ښار کې د خپلې مدافع وکیلې په دفتر کې ناست دی وایي: «له سفر مخکې مې سمندر یوازې په ټلویزیون کې لیدلی و.» عثمان چې له ۱۱۵ تنه نورو کډوالو سره یو ځای په یوه کښتۍ کې سپور و له لیبیا څخه اروپا ته د تګ هڅه درلوده. کښتۍ یوه سپین پوستي سړي چې تفنګچه ورسره وه چلوله. عثمان وایي: «کښتۍ چلوونکي مې لاس ونیوه، پر موټور یې کېښنود او یوې بلې کښتۍ ته یې خېز وواهه. تفنګچه یې را باندې ونیوله، ډېر ډارېدلی وم.» که څه هم د کښتۍ نورو سپرلیو د پلټنو په ترڅ کې د عثمان ویناوې تایید کړې، خو عثمان وایي چې له کښتیه تر ښکېدو کېدو سره سم زندان ته ولېږدول شو. د هغه په وینا: «یوه میاشت مې په زندان کې تېره کړه خو خبر نه وم چې ایټالیا کې یم«.

مهتاب سابترا وایي: «داسې معلومېږي چې دا د قاچاقبرو ستراتیژي ده: دوی تر یو ځایه پورې له کډوالو سره ځي، خو کله چې پوه شول چې نور د بېرته ګرځېدو امکان نشته نو کډوالو ته وایي چې کښتۍ دې وچلوي.» د مهتاب پلار هم د قاچاقبرو په لومه کې لوېدلی دی .همایون کمې پیسې درلودې او قاچاقبر ته یې ویلي وو چې اروپا ته له رسېدو سره سم به ۲۰۰۰ یورو ورکړي. خو کله چې د یونان اوبو ته ورسېد، قاچاقبر دې ته اړ کړ چې تر تسالونیک پورې کښتۍ وچلوي. همایون سابترا د ۲۰۲۲ د سپتمبر په ۲۶مه د پولیسو له خوا له نیول کېدو یو کال وروسته په ۱۸ کلونو بند محکوم شو.

مهتاب وایي: «پلار مې یو له هغو میلیونو کسانو دی چې د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوی او د کډوالۍ پر لاره دې ته اړ شو چې په اصطلاح غیرقانوني کار وکړي. قاضیان پوهېږي چې پلار مې قاچاق وړونکی نه دی، خو دوی د نورو مهاجرو

د منصرف کولو لپاره ځیني کسان قربانوي. تر ټولو غمجنه خبره دا ده چې دا کار کډوال منصرف کوي نه: دوی د بایللو لپاره هېڅ نه لري«.

قضايي سیستم کې ستونزې

په ورته مهال د یونان په ساموس ټاپو کې مدافع وکیل دمیتریس چولیس وايي: »زیات شمېر کسان نه پوهېږي چې ولې نیول شوي دي.« نوموړي چې په ۲۰۲۰ کې يې د یومن رایتز لیګل پروجکت سازمان بنسټ اېښودلی تر اوسه د لسګونو کډوالو د قضیو دفاع کړې ده. دغه سازمان له کډوالو سره په قضايي او عدلي چارو کې مرسته کوي. دمیتریس وايي: »دوی [چارواکي] یو داسې مدافع وکیل ټاکي چې په لسو دقیقو کې د تورن کس دوسیه چمتو کوي، محاکمه په لسو دقیقو کې ترسره کېږي، قاضي تورن کس د کښتیو او یا د موټرو د سپرلیو د شمېر په تناسب په بند محکوموي او تورن کس زندان ته اچول کېږی«.

د یونان د قوانینو له مخې، د هر یو کس د انتقال لپاره ۱۰ کاله بند سزا ټاکل شوې ده. د ۲۰۲۲ په مې میاشت کې یو سوریایی د کډوالو د کښتۍ چلولو په تور چې د یونان پاروس ټاپو ته نږدې ډوبه شوه په ۱۸۷ کاله بند محکوم شو. ډېری بندیان تر ۲۰ کلونو پورې په زندان کې ساتل کېږی او د بند سزا يې په استیناف محکمو او یا مخففه حالاتو کې کمېدلی شي. دمیتریس وايي: »قاضي محاسب نه دی. قاضیان باید هڅه وکړي چې پوه شي او مناسبه سزا وټاکي«.

بل پلو د کډوالو د حقونو مدافع بنسټونه پر »نمایشي څېړنو« نیوکه کوي او وايي چې د دغو تحقیقاتو په پایله کې بې ګناه کسان زندان ته استول کېږي. خو د یونان د ساحلي ځواکونو ویاند له لیبراسیون ورځپاڼې سره خبرو کې دغه ادعاوې ردوي او وايي له قضايي پروسو مخکې بشپړ مقدماتي تحقیقات ترسره شوي دي.

دمیتریس چولیس وايي: »پر یو کس تور و چې قاچاقبر دی ځکه چې جي پي اس يې درلود. ځیني وختونه دوی په خپله خوښه یو کس انتخابوي«.

که څه هم عیني شاهدانو پولیسو ته ویلي وو چې قاچاقبرو ته يې په لیبیا کې پیسې ورکړې دي، خو د ایټالیا پولیسو عثمان په دې تورن کړ چې د ګټې د ترلاسه کولو په موخه يې کښتۍ چلولې ده. عثمان وايي: »د محکمې یو لیک مې ترلاسه کړ چې په انګلیسي و، حال دا چې زه یوازې په بامبارا ژبه پوهېږم. نه پوهېدم چې څه پکې لیکل شوي دي، دوی ما ته وویل چې لاسلیک يې کړم، لاسلیک مې کړ.« خو وروسته بیا روښانه شوه چې دا يې اعترافات دي. عثمان چې وکیل يې نه درلود په لومړۍ محکمه کې په ۸ کاله زندان محکوم او د ۴ میلیونو یورو جریمه ورته وټاکل شوه. هغه وايي: »ناهیلی شوی وم«.

عدلي او قضايي مرستې

په زندان کي عثمان د سیسیلی مدافع وکیلي روزا لو فارو نوم اوري. روزا لو فارو چې اوس د عثمان مدافع وکیله ده په دې بریالی کېږي چې استیناف محکمه کې د عثمان د بند موده کمه کړي. عثمان په ۲۰۲۰ کې له شاوخوا درې کلن بند وروسته له زندانه خوشی کېږي.

له تېرو څو کلونو راهیسې د بشري حقونو سازمانونه او مدافع وکیلان هڅه کوي چې د کډوالو د نیول کېدو پر وړاندې مبارزه وکړي. تېر اوړی د الارم فون، سي واچ او باردرلاین یوروپ په ګډون ځینو سازمانونو د کپتېن سپورټ په نوم یو پراخ کمپاین پر لاره واچاوه چې موخه یې کډوالو ته د قانوني حقونو او شته ګواښونو په اړه معلومات ورکول دي. له کډوالو سره وړیا قضایي مرستې هم کېږي.

په یونان کې د یومن رایتز لیګل پروجکټ او د لېسبوس حقوقي سنټر په دې بریالي شوي چې ځینې مهاجر له زندانه وژغوري. د ۲۰۲۲ دېسمبر په ۹مه دوه افغانان چې په ۵۰ کلونو زندان محکوم شوي وو له درې کلن بند وروسته خوشي شول. خو خیوس ټاپو کې مدافع وکیل السکاندروس ګیورګلیس وایي چې دوی غواړي چې د اروپا په کچه قانون کې بدلون رامنځته شي.

همایون سابترا تر اوسه په زندان کې دی. مهتاب وایي چې د محاکمې راهیسې ښه نه خوري او ښه خوب نه کوي. اوس دغه ځوانه محصله هڅه کوي چې نورو ته د شته ستونزو او د حل لارو په اړه معلومات ورکړي. نوموړې وایي چې د پلار کیسه یې رسنیزه شوه، خو د ګڼو نورو کسانو غږونه نه اورېدل کېږي.

## پر اخراج د مهاجرو د اصلي هیوادونو سره خبري اترې پرېکړنده دي

مهاجرنیوز




د مهاجرت لپاره د آلمان د حکومت ځانګړي مامور یوآخیم شتمپ وایي چې د اخراج په پروسه کې د مهاجرو د اصلي هیوادونو همکاري ډېره مهمه ده.

یوآخیم شتمپ غواړي چې د مهاجرو د اصلي هیوادونو سره د اخراج پر موضوع د همکاریو رامنځته کولو لپاره خبرې اترې وکړي. د مهاجرت لپاره د آلمان د حکومت نومول شوي دغه ځانګړي مامور د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ د جنورۍ په ۳۱ نېټه) د آلمان راډیو ډویچلانډ فونک ته دا څرګندونې وکړې. د هغه په وینا په تیرو وختونو کې دا ډول هڅې زیاتې بریالي نه وې.

د شتمپ په وینا پکار ده چې د مهاجرو د اصلي هیوادونو سره جوړجاړی وشي او ورسره همکارۍ رامنځته کړل شي. د آلمان د لیبرال ګوند سره تړاو لرونکي دغه سیاستوال په دې تړاو نور جزیات نه دي وړاندې کړې. د هغه په وینا و یاد مقصد ته د رسېدو لپاره ډېر اوږد مزل پاته دی .

شتمپ ویلي دي چې د آلمان اکثریت وګړې د اخراج په هلکه یو روښان او شفاف دریځ غواړي ووینې. د هغه په وینا هغه څوک چې غواړي د دغې ستونزې په هوارۍ کې جدي اقدام وکړي، هغه ته باید چانس ورکول شي. د دغه مامور په وینا ټول هغه قانوني امکانات باید په کار واچول شي چې پر ټولنه بار او په زیاته د جنایتکارانو او ګواښ پېښوونکو په اخراج کې کارول کېدلای شي .

شټمپ پخوا د آلمان د نارد راین ویستفالن ایالت د ادغام وزیر او د ایالتي لومړي وزیر مرستیال و. د آلمان حکومت د مهاجرت لپاره ځانګړي اداره او ماموریت رامنځته کړ چې مشري یې شټمپ ته سپارلې ده. نوموړی د چهارشنبې په ورځ خپل دغه ماموریت پیلوي .

## آلمانی اروپوهه: د مهاجرو رواني درملنه عیاشي نه ده

مهاجرنیوز




د اروا پوهني یوې آلمانی کارپوهي وړاندیز کړی دی چې کوربه هیواد ته د مهاجرو د رسېدو سره سم دې د هغوی ممکنه رواني ستونزې معلومې کړل کېږي.

اروا پوهې کاتالین دوهرمن و آلمانی ورځپاڼې «فرانکفورتر الګېماین» ته ویل دي چې د مهاجرو د راداخلېدو سره سم دې د هغوی ممکنه رواني ستونزې کتل کیږي. هغې زیاته کړې ده: «موږ د خطر سره مخامخ کېږو که و تاوتریخوالي ته چمتو مهاجر ونه پېژنو.» د دغې کارپوهې په وینا صرف د توبرکلوز، تبې او نورو ورته ناروغیو کنټرول بسیا نه کوي.

دوهرمن نیوکه کړې ده چې د «ریفیوجي هلېت سکرینر» په نوم د مهاجرو د روغتیا په اړه پوښتنپاڼې تقریبا هیڅ نه کارول کیږي، حال دا چې دغه پاڼې په زیاتو ژبو کې شته دي. هغې زیاته کړې: «د اروپایي اتحادیې هیڅ هیواد دا کار نه کوي، حال دا چې د اروپایي اتحادیې اصول د دې غوښتنه کوي.» دغه کارپوهه اټکل کوي چې ښایي یادې پوښتنپاڼې ځکه نه ویشل کیږي ولې چې اړونده اروپایي هیوادونه بیا وېره لري چې پر اړینه درملنه به یې زیات لګښتونه راشي. هغه زیاتوي: «د

دي تر څنګ داسي نظر شته چي ګواکي رواني روغتیا یو شانته عیاشي ده. خو زه دا نظر ناسم بولم. یو مهاجر چي د شپي بد خوبونهویني، هغه ژبه نشي زده کولای ځکه چي ځان همیشه په خطر کي احساسوي، کله چي ژور خفګان لري«.

د دغي کارپوهي په وینا حتمي نه ده چي هره بهتري دي د زیات لګښت سره مل وي. د هغي په وینا هر رواني ستونزه لرونکی مهاجر حتمي نه ده چي «حد اکثر درملنه «ولري. هغه وایي چي دا ممکنه ده چي په یو واري آن ۵۰۰ زره انسانان په رواني توګه مراقبت ترلاسه کړي. هغي په دي لړ کي د تدریجي پروسي رامنځته کول وړاندیز کړي دی. د هغي په وینا په دي کي د تېراپي یا درملني پر وخت د ژباړونکو او د روغتیایي مراقبت کوونکو شتون یاد شوی دی. د هغي په وینا کوم مهاجر چي جدي رواني ستونزي ولري، هغوی بیا و ارواپوهانو ته د درملني لپاره لېږدول کېدلای او آن په اړونده مراکزو کي بستر کېدلای شي.

د «پسایکو تراوماتولوګي یا رواني ژوبلو د پوهانو د اختصاصي مرکز» دغي مشري د مهاجرو له خوا تر سره شوو د تاوتریخوالي تازه پیښو ته په کتو سره ویلي دي چي اکثریت دغه کسانو په ډېر لوی احتمال په خپله د تاوتریخوالي د قرباني کېدو تجربه لرلي ده. د هغي په وینا عموما نارینه د تاوتریخوالي د قرباني کېدو په صورت کي پخپله هم تاوتریخوالي ته لاس اچوي، په داسي حال کي چي مېرمني د ژور خفګان سره مخامخ کېږي.

## نزدیک به ۱۳۰ زندانی افغان از زندان مرکزی شهر کراچی رها شدند

آریانانیوز



تصویر آرشیف: زندان مرکزی شهر کراچی پاکستان

دستهٔ دیگری از زندانیان افغان پس از آزاد شدن از یک زندان در کراچی، راهی افغانستان شدند.
آن ها در حالی آزاد شده اند که بر اساس گزارش ها، بازداشت افغان ها به اتهام نداشتن اسناد قانونی اقامت در بخش های مختلف پاکستان ادامه دارد.
منیزه کاکر، یک وکیل مدافع زندانیان افغان در کراچی ناوقت روز سه شنبه به رادیو آزادی در مورد رهایی این عده از افغان ها, چنین گفت:
"از زندان کراچی ۱۲۸ افغان {به روز سه شنبه} به افغانستان فرستاده شدند .هنوز هم در کراچی، سکر و حیدر آباد تا ۸۰۰ تن بشمول زنان و کودکان زندانی استند. در سلسلهٔ بازداشت افغان ها تغییری نیامده است".
شمار زیادی از افغان ها به خاطر کار های ضروری بشمول تداوی به پاکستان می روند، اما بر اساس گزارش ها سلسلهٔ بازداشت آن ها در سه ماه اخیر سرعت کسب کرده است.




تعدادی از زنان و کودکان افغان که در پاکستان زندانی اند

گزارش شده است که تا کنون تنها در کراچی، سه زندانی بیمار افغان عمدتاً بنابر دسترسی نداشتن به خدمات صحی جان داده اند.

هنوز هم ۸۰۰ تن از افغانها به شمول زنان و کودکان در زندان های پاکستان زندانی اند

خانم کاکر می گوید که حتی یک زندانی افغان در محکمه دچار حملۀ قلبی شد.

در میان زندانیان افغان بیماران هم زیاد است. بالای زنی به نام فاطمه که دچار بیماری قلب است، در محکمه حملۀ قلبی آمد. زمانی که ازش پرسیدم که برای تداوی به شفاخانه منتقلش کرده اند؟ او گفت که نه. اما او را به روز سه شنبه توسط ویل چئر به شفاخانه آوردند".
سعید عبدالجبار تخاری، قونسل حکومت طالبان در شهر کراچی به رادیو آزادی گفت که حکومت پاکستان با آن ها همکاری لازم نمی کند.
سفارت افغانستان تحت کنترل حکومت طالبان در اسلام آباد سه شنبه در تویتر نوشت که در روز های آینده ۱۳۰ زندانی دیگر افغان نیز آزاد و به کشور شان منتقل خواهند شد.

حدود سه هفته پیش از رهایی تا پنجصد زندانی دیگر افغان در کراچی گزارش شد.

رانا ثناالله، وزیر داخلۀ پاکستان ماه گذشته گفت که آنانی که بدون اسناد قانونی اقامت بیش از حد در پاکستان می مانند، جریمه می شوند.
او افزود، کسانی که بیش از یکسال به گونۀ غیرقانونی در پاکستان زندگی کنند، نام های شان در فهرست سیاه شامل می شود.

اما وزیر داخلۀ پاکستان مقدار جریمه را مشخص نکرد و هم نگفت که سرنوشت افراد شامل لست سیاه چه خواهد شد؟

## بازگشت بیش از سه هزار مهاجر افغان از ایران به افغانستان

صدای ترکیه

وزارت امور مهاجران و عودت‌کنندگان دولت طالبان از بازگشت 3 هزار و 282 مهاجر از ایران به افغانستان در طی دو روز خبر داد



وزارت امور مهاجران و عودت‌کنندگان دولت موقت طالبان امروز طی اطلاعیه‌ای اعلام کرد که طی دو روز گذشته 3 هزار و 282 مهاجر از ایران به افغانستان بازگشته‌اند.

بر اساس این اطلاعیه، بسیاری از افرادی که به افغانستان بازگشته‌اند، برای دریافت کمک به دفتر سازمان بین‌المللی مهاجرت در ولایت نیمروز و هرات معرفی شده‌اند.

مقامات طالبان درباره اینکه بازگشت مهاجران افغان داوطلبانه بوده یا اخراج شده‌اند، اظهار نظری نکرده‌اند.

مهاجرانی که وارد افغانستان می‌شوند، توسط نهادهای بین‌المللی به‌ویژه کمیساریای عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان و سازمان بین‌المللی مهاجرت کمک‌های نقدی دریافت می‌کنند.

گفتنی است پس از تسلط طالبان بر افغانستان صدها هزار شهروند به‌ویژه جوانان به کشورهای همسایه به ویژه ایران و پاکستان مهاجرت کردند.

## ترکیه ۱۳۹ پناهجوی افغان را به افغانستان بازگرداند

مهاجر نیوز

بر بنیاد آمار منتشر شده از سوی مقامات ادارهٔ مهاجرت ترکیه، ۱۳۹ مهاجر افغان تنها به روز شنبه از ترکیه اخراج و به افغانستان بازگردانده شده‌اند.

در همین حال گفته شده است که ترکیه بر اساس سند راهبردی مهاجرت غیرقانونی و برنامهٔ عمل ملی این کشور، مهاجرانی را که به صورت غیر قانونی و بدون مدرک اقامتی وارد شده‌اند، با پروازهای چارتر به کشورهای‌شان بازمی‌گرداند.

ساواس اونلو در یک نشست خبری در پایتخت گفت که این مهاجران پس از گذراندن تمام مراحل لازم مثل، معاینات صحی و بررسی‌های امنیتی به افغانستان بازگردانده شدند.

به گفتهٔ این مقام، پیش از این نیز ترکیه ۸ هزار و ۵۷۱ مهاجر غیرقانونی را در ماه جنوری سال جاری اخراج کرده‌است.

اونلو همچنان گفته است که در پی تلاش‌های ترکیه برای مبارزه با مهاجرت‌های غیرقانونی، شمار ورود مهاجران در سال ۲۰۲۲ به نسبت سال ۲۰۲۱ کاهش ۳۸ درصدی داشته است.

در همین حال، پیش از این ادارهٔ مهاجرت ترکیه در یک اعلامیه گفته بود که تنها از تاریخ ۲۰ تا ۲۶ جنوری ۲ هزار و ۳۰۰ مهاجر غیر قانونی را دست‌گیر کرده‌اند.

این اداره همچنان می‌گوید که از آغاز سال جاری تا اکنون ۸ هزار ۵۷۱ مهاجر غیرقانونی در ۹ پرواز چارتر به کشورهای شان بازگردانده شده‌اند.

این در حالی است که بر بنیاد آمار ارایه شده از سوی ادارهٔ مهاجرت ترکیه که زیر چتر وزارت داخلهٔ این کشور فعالیت دارد، از سال ۲۰۱۶ تا اکنون از ورود غیرقانونی ۲.۷ ملیون مهاجر جلوگیری شده‌است.

ترکیه به لحاظ موقعیت جغرافیایی‌اش همواره گذرگاهی برای پناهجویان آسیایی بوده‌است که تلاش می‌کنند از آزار و اذیت در کشورهای خود فرار کرده و به اتحادیهٔ اروپا برسند.